DFID Department for International Development

نړیوال بانك
له بي وسۍ فقر او غربت څخه ژغورلي
نړۍ ته د رسیدلو لپاره هلې ځلې

اړیکي:
نړیوال بانک په کابل کی: عبدالرووف ضیا ۰۷۰۰۲۸۰۸۰۰
Azia@worldbank.org
نړیوال بانک په واشنګتن کی: اریك نورا ۴۷۳۵ ۴۵۸ (۲۰۲)
enora@worldbank.org

# د بریتانیا د نړیوالې پرمختیایی اداري او نړیوال بانك راپور: د افغانستان بېوزله خلکو ته د اقتصادی فرصتونو برابرونه د کوکنارو په مخ نیوې کې مهم رول لوبوي

**ټوکیو، د فبروری پنځمه، ۸۲۰۰ کال:** په هغه راپور کې چې نن د بریتانیا د نړیوالې پرمختیایی اداري او نړیوال له خوا خپور شو، ویل شوي دي پرمختیایی هڅې پکار دي ترڅو د کوکنارو په کرکیله د افغانستان د کلیوالو ساحو ویسا په منځ مهاله او اوږد مهاله موده کې له منځه ولاړه شي او د هغو اقتصادي هڅوني بدلون و مومي.

په نوموړي راپور کې وړاندیز شوی چې د افغانستان په کرهنیز اقتصاد کې دایمي پانګه اچونه به زیات حاصلات منځ ته راوړي او په افغانستان کې مېشت بهرنیان هڅوي ترڅو خپلې پېرودنې په سیمه اییزه توګه سرته ورسوي او د نوموړي هېواد کورني تولیدات وهڅوي.

د نوموړي راپور پر بنسټ چې سرلیکه یې په افغانستان کې د کوکنارو د تولید اقتصادي لاملونه او د هغو د کمښت لپاره پرمختیایی ګامونه– وه، نوموړي ګامونه د افغانستان د مخدره توکیو د مبارزې د پراختې ستراتیژۍ یوه اساسي برخه جوړوي چې نورې برخې یې د قوانینو تنفیذ، سیاسی او اداري ګامونه، د امنیت ښه والی، د حاکمیت ښه توب، د پوهې پراختیا، د غوښتنې کمښت او درملنه دي.

*افغانستان د ثابت او هوسایني په لاره کې د جدي ننګونو سره مخ دی ."* د ا مطلب **ډوګلاس الکساندر، چې په نړیوالو پراختیایی چارو کې د بریتانیا ددولت وزیر دی**، یاد کړ او زیاته یې کړه چې *" په افغانستان کې د کوکنارو د کرکیلې ختمونه د مونږ په وړاندې تر ټولو لویه ننګونه ده خو هغې په ختمولو سره به تر ټولو لوی مکافات یانې د په هیواد کې د تل پاتې ثبات ټینګېدنه او په راتلونکې کې د افغانستان د خلکو هوساینه. د کوکنارو د کرکیې بندولو ته د افغانستان د خورا نېستمنو بزګرانو اړ ایستلو لپاره رښتوني هڅونو ته اړتیا ده او دا راپور په دې هکله یو مهم پرمختګ دی چې د۲۰۰۳ کال د پرمختیایی فعالیتونو پر بنسټ ولاړ دی. دا ننګونه به د اوږدې مودې لپاره ادامه وکړي او یو نسل یا زیات به پکار وي چې له منځه لاړه شي خو مونږ نشو کولای سترګې ورڅخه پټې کړو."*

افغانستان د نړی تر ٪۹۰ څخه زیات کوکنار جوړوي او تجارت یې سرته رسوي. د کوکنارو د اقتصاد حجم د کورنیو سوچه تولیداتو په سلو کې ۳۰ برخې جوړوي او په میلیونونو افغانان په مستقیمه یا نامستقیمه توګه له هغې څخه ګټه اخلي. د کوکنارو د کرنې اقتصادي ننګونه په عمومي توګه په کلیوالو سیمو پوری تړاو لري چې راپور په دې هکله داسې استدلال کړی دی: د کوکنارونه کرنه ترټولو ارزښتناك کرهنیز فعالیت دی او په سلګونو زره افغانانو ته د عوایدو او کارموندې لامل ګرځېدلی دی.

نوموړی راپور چې په ټوکیو کې د نړیوالو ډونراو او افغانستان د دولت د غونډې په ترڅ کې د لمړي ځل لپاره خپور شو، یادونه کوي چې د مخدره توکیو اقتصاد په لرې پاته او یا ناامنه سیمو کې د ودې په حال کې دی چې نوموړې سیمې د نورو کرنیزو حاصلاتو بازارونه او بدیل معیشت د کمښت سره مخ دي. اوس مهال د کوکنارو کرهڼه د هېواد په پنځه سهیلي ولایتونو کې چې حاده امنیتي وضعه لري، ډېروالی لري. نوځکه لاژمه ده چې د نوموړو سیمو د کلیو د بزګرانو د ستونزو د حل لپاره د کوکنارو بدیل داسې وړاندې شي چې له هغوې سره د مځکې، پورنو، غذایی خوندیتوب، او دوام لرونکي د اقتصادی معیشت مرستې په پام کې ونیول شي.

په راپور کې وړاندیز شوی چې پرمختیایی هڅې باید په ځو کلونو کې ترسره شي ترڅو د هغې له لارې مهم بنسټونه، بازارونه، او لازم خدمتونه د ثابتې ودې لپاره برابر شي. دا راپور استدلال کوي چې د امنیت خوندیتوب، د ښه حاکمیت او خلکو د ښو مؤسسو پیاوړتیا هم مهمه دي. دا کار به د مسؤلیت منني او اعتماد اړیکې د خلکو او مرکزي و سیمه اییز حکومت تر منځ ټینګې کړي.

تجربه راښیي چې د نوموړو شرطونو په پوره کولو سره کولای شو د کوکنارو کښت راټیټ کړو. د بېلګې په توګه د بدخشان ولایت په هغه سیمو کې هغه سیمې چې کورنۍ یې د ښارونو په څنډو کې ژوند کوي او کرهڼیزو موادو او د کار بازارنو ته لاس رسی لري، د کوکنارو د کښت ټیټوالی په ځه نا ځه لنډ وخت کې ممکن شوی دی.

نوموړی راپور د ښه امنیت او حاکمیت اهمیت په ډاګه کوي. "*مشروع معیشت یواځې د ښه حاکمیت او امن تر شرایطو لاندې چې د مشروعو بازارنو وده، د شتمنیو غونډونه او د نورمالو اقتصادي فعالیتونو پراختیا ته اجازه ورکړي، ممکن دی.*" دا مطلب **په افغانستان کې د نړیوال بانك مشر الاستیر مکچنی** یاد کړه او زیاته یې کړه چې "*په کلیو کې د اوسنیو هیله ورکوونکو جوړښتونو پر بنسټ چې د ملی پیوستون د پروګرام له خوا وړاندې جوړ شوي دي، د قوی سازمانونو د چوکاټ پراختیا ته اړتیا شته ده.*"

راپور شپږ لنډ مهاله لمړني ګامونه په لاندې توګه وړاندې کړي دي:

- د ښو پروګرامونو له لارې د کلیو په کچه د سیمه اییزې پرمختیا اوچتول
- د اوبو لګونې له لارې د خړوبتیا وړ کرهنیزې ځمکې برابرول
- د مالدارۍ پراختیا ترڅو د بېوزله کسانو معیشت ښه او شتمني یې زیاته شي
- د کلیوالو تشبثاتو او سوداګرۍ د پراختیا لپاره د فرصتونو برابرونه
- د افغانستان په ساتنه او بیاجوړونه کې د برخمنو نړیوالو ادارو هڅونه تر څو خپلې پېرودنې د هېواد د ننه وکړي او کورني کارکوونکې په کار وګماري.
- د مناسبو صنعتی حاصلاتو د تولید او بازار موندنې د ممکنو فرصتونو څخه ګټه اوچتول.

په داسې حال کې چې دا راپور د هېواد په ځینې برخو کې د پاڅونونو او جګړو له امله د پرمختګ د امکاناتو محدود والی مني، خو د پرمختګ د ممکنو لارو وړاندیز هم کوي، لکه په پروژو کې د کلیو تر ټولو زیاته برخه اخستنه او سیمه اییز کنټرول، د پروژو د تطبیق د کورنیو مؤسسو او کارکوونو سره همکاري (ښه به دا وي چې د اړوندو کلیو سره تړاو ولري)، ډاډ ترلاسه کول چې پروژې د کلیو په سیمه اییزو لمړیتوبونو کې شاملې دي، او د پروژو څخه د بهرني لېبل او نامه لرې کول. په هغو کې چې تر ټولو ناامنه دي لکه د هلمند ولایت، خوښنې لاثورې هم کمې دي، خو کېدای شي ممکنه به وي چې په ښارونو او د هغو په شا او خوا سیمو کې پراخه پانګه اچونه وشي، په هغو سیمو کې چې امنیت ښه دی د عامو فوایدو د هغه چارو څخه ملاتړ چې زیاتو کارګرانو ته اړتیا لري، د کلیوالو سړکونو جوړونه او د بشري سرچینو د پراختیا لپاره د پانګه اچونې هڅول چې د اړتیا په صورت کې د نورو هېوادنو د تعلیمي مؤسسو له لارې هم برابرېدای شي.

له حاکمیت سره د کلیو پراختیایي مرستو تړاو کولای شي پر معیشت او په خپل وار سره د کوکنارو پر اقتصاد لویه اغېزه ولري. په راپور کې غوښتنه شوې چې اوسني ملي پروګرامونه لکه د کلیو د لاس رسي ملی پروګرام او د ملي پیوستون پروګرام چې د کلیوالو سیمو په پانګه اچونه کې ډېر اغېزناك اوسېدلي دي، باید پراختیا و مومي او سره یوځای شي. همدارنګه وړاندیز یې کړی دی ترڅو د کلیو د پراختیایي شوراګانو رول چې د ملي پیوستون په پروګرام کې د سیمه اییزو پرمختیایی همکارانو په حیث جوړې شوې دي، باید پراختیا ومومي. نوموړی کار به د کلیو سره مرسته وکړي ترڅو د سوداګریزو فعالیتونو لپاره لازم فزیکي او سازماني بنسټونه منځ ته راوړي. بنسټونه خاص اهمیت لري. اوس مهال د افغانستان د ۳۹۶ ولسوالیو له ډلې څخه، ۱۰۸ ولسوالۍ نشي کولای چې د سرك له لارې د خپل ولایت له مرکز سره اړیکه ولري.

نوموړي راپور د اوبو لګوني او مالدارۍ څانګې د مرستو د اساسي اړخونو په څېر پېژندلي دي. افغانستان وچه مځکه لري او ډېرۍ کرهنيز توليدات يې د اوبولګونې ته اړتيا لري چې په دې توګه اوبه لګونه د معيشت د برابروني او د ارزښتناکو نباتاتو د کرهني په هکله د بزګرانو سره د مرستې لپاره اساسي اهميت لري. نوموړی راپور وړانديز کوي تر څو د کابو ۱،۲ ميليارده پانګې اچوني لپاره يو لس کلن پروګرام په تدريجی توګه پلي شي. دا راپور د وترنرۍ د خدمتو د پياوړتيا او د شيدو او چرګانو د کوچنيو پروژو د ودې لپاره د ملي پروګرامونو په يادوني سره ليکي چې د مالدارۍ سره مرسته هم ممکنه ده.

د ملي تشبثاتو د پراختيا اغېزې پر کارموندنه او شتمنيو په منځ ته راتګ باندې هم د پام وړ دي. نوموړی راپور څو وړانديزونه لري چې هغې په واسطه به د تشبثاتو چاپېريال ښه والی ومومي او د هغو د پياوړتيا پروګرامونه به لا زيات اغېزمن شي. په دې چارو کې ګاونډيو هېوادونه ته د افغانستان د لاريو ښه رسېدنه، مشترك تمويل، د صنعتي پارکونو پراختيا، د صادراتو د سټنډرډ ښه توب او د ګمرکي خدمتونو وده ګډون لري.

يو هغه بيړنی ګام چې ارزښتناکه ګټې به ولري دادی چې بهرنۍ ټولنه په سيمه ايزه توګه خپل تدارکات ترسره کړي. د نړيوال بانك په مطالعه کې موندل شوي چې د سوله ساتي بوديجو په سلو کې ۹-۴ فيصده ګټې په کوربه هېواد کې پاته کيږي. نوموړی راپور د افغانستان د موافقتنامې ټول ملاتړي هېوادونه هڅوي ترڅو د کورنيو تدارکاتو د ببړنده چټکتيا لپاره جدي تعهدات ورکړي. نوموړي تدارکات ډېرى د ارزښتناکه کرهنيزو توليداتو څخه عبارت دي چې زياته کچه يې د کوکنارو په زيانمنونکي سيمو کې کرل کېدای شي.

د افغانستان څو سيمې د باغونو، صنعتي او صادراتي حاصلاتو د توليد ممکنه وړتيا لري لکه د غوړو دانې، ميوې او دانې، پنبه او سابه. نوموړی راپور وايي چې د نوموړو حاصلاتو د توليد او بازار د پراختيا همغږی پروګرام کولای شي لويې ګټې ولري.

د راپور په آخره برخه کې ټينګار شوی دی چې د افغانستان د کوکنارو د اقتصاد تدريجي ختمونه به د ښه حاکميت او مشروع اقتصادي فعاليتونو په ترسره کولو سره منځ ته راتلای شي. دا ټولې موضوعګانې وخت، دايمي تعهد او سرچينو ته اړتيا لري.

*"د کوکنارو د توليد کمولو لپاره ډېرې چټکې هڅې کېدای شي د غلط تعبير او د اوږد مهاله اغېزو د ويجاړېدو لامل شي."* دا مطلب ويليام بيړډ چې د نړيوال بانك اقتصاد پوه او ددې راپور د ليکوالانو له ډلې څخه دی، په ډاګه کړ او زياته يې کړه چې *" ددې پروسې ګټې به په لنډ مهاله او اوږد مهاله موده کې د يوشان ميتودونو په کارونې، د لنډ مهاله شاتګ په ضد د ټينګ هوډ او د لويو، همغږو او دايمي پانګه اچونو له لارې لاس ته راشي."*

د نړيوال بانك د راپور او په افغانستان کې د نړيوال بانك د لاړياتو مالوماتو په هکله لاندې وېب سايټ وګورئ:
[http://www.worldbank.org.af](http://www.worldbank.org.af)

د نوموړي راپور او په افغانستان او نورو سيمو کې د بريتانيا د نړيوالې پراختيايي ادارې د چارو په هکله لاندې وېب سايټ وګورئ:
[http://www.dfid.gov.uk](http://www.dfid.gov.uk)